مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

انجینر داؤد اڅک ۲۰۲۳/۰۵/۱۰

زاهد جانه عرض مي واوره

بعد له ډېره عمره مي د ځوانۍ یو متقي انډیوال ولیدی، په رشتیا چي ډېر په خوشحاله سوم او انډیوال مي هم زما په لیدو ډېره خوښي ښکاره کړل. دا چي انډیوال مي ږیره پرې ایښي وه نو مي په ټوکو کي د زاهد په لقب ورته وویل:
زاهد جانه دا څنګه مبارکه ږیره دي پرې ایښي ده. زاهد جان ته ئې خوند ورکړ، په برېتوو کي ئې و خندل، پر ږیره ئې لاس تېر کړ او راته و ئې ویل:
هو نو، ژوند دی. مکث ئې و کړ او زیاته ئې کړل چي کعبې شریفي ته روان یم. زاهد جان چی زما د لغړي زني یار وو په جرئت مي پوښتنه ځني و کړل: د حج فرایض در معلوم دي؟
زاهد جان په خښم راته و ویل: خود را معلوم دي.
ما ورته وویل: د حج یوه فریضه داده که ستا همسایه وږی وي او د خوړلو لپاره څه نه لري ته باید لومړئ د خپل ګاونډي سره مرسته وکړي، د هغه نس موړ کړي بیا کعبې شریفي ته ولاړ سي. غوښتل مي د حج نور فرایض هم ور په یاد کړم خو زما انډوال (زاهد جان) ته ئې خوند ور نکړ او په خوابدۍ ئې د خدای په اماني وکړل روان سو.
ما د انډیوالۍ په لهجه په لوړ اواز ور ږغ کړل:

زاهد جانه عرض مي واوره

تر اؤوو ۷ دریابو مه اوړه زاهده
پر هرسنګ باندي مونده سي پاک سبحان

که دي عزم د الله رضائیت وي
په مظلومو زړو کي و مونده ځپل ځان

پر کعبه که ډېوه بله وي که نه وي
خپل د زړه ډېوه دي و ساته روښان

د دنیا خوښۍ د کراستي ملا بند دی
نیک عمل دی ښه ملګری جاویدان

د ریا خرقه دي لیري کړه داؤده
فطرتی ښکلا جوهر دی د انسان

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ